مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدران ۲۰۲۲/۱۰/۲۹

په اسلامي نړۍ کې د ساینسي علومو عروج او نزول
د یوه عالم د قلم رنګ د شهید له وینې ډېر سپېڅلی دی

سریزه:

اسلامي نړۍ کې د ساینسي عصري علومو بیا رغونه او راټولیدنه هغمهال پیل شوه، کله چې اروپا د روم امپراتورۍ له رنګیدونو ورسته په هر ډګر کې له سترو رکوډ سره مخامخ شوه. د اموي خلافت مسلمانو لښکرو نه یوازې په ختیځ کې د منځنۍ اسیا د ترکستان، ایران او افغانستان په لور حرکت وکړ، بلکې په لویدیځ کې د مسلمانانو لښکرو د ایبریا ټاپو وزمه ننني پرتګال اوهسپانیې سیمې فتحه کړې او ان د فرانسې تر زړه د پاریس تر یو سلو شپېته کیلو متري پورې پراخې سیمې تر لاندې کړې. په 711 کال کې د اپریل په 28 مه نېټه په لویدیځ کې د مسلمانو لښکرو لومړنې برید د عرب جنرال طارق بن زیاد په مشرۍ د 7000 جنګیالیو په مټ د شمالي افریقا له اړخه ترسره شو.

په 711 کال کې مسلمانانو د ایبریا ټوله ټاپو وزمه ونیوله. اسلام په چټکۍ سره په دغه ټاپو کې ډېر زر خپور شو.

په یو زرم کال کې د الأندلس روڼاندو اووه میلیونو اوسیدونکو څخه پېنځه میلیونه عیسویان د اسلام په مبارک دین مشرف شول. تر 1492 کالونو پورې اندلس یا اسلامي هسپانیه د دریواړو اسماني مذهبونو یهودیت، عیسویت او د اسلامي تمدن د کولتوري زعم تر چطر لاندې ستر نړیوال علمي مرکز و. مسلمانانو نه یوازې ستر فتوحات وکړل، بلکې په بیساری توګه په علمي ډګر کې پراخ پرمختګونه وکړل. د پیړیو راهیسې اسلامي نړۍ د خپلو پوهو عالمانو، پوهانو او د هوښیارو مشرانو حاکمانو سیاستونو له کبله په علمي، کولتوري او ټیکنالوجي لحاظه د اروپا له فکري نړۍ څخه په لوړه کچه پرمختللي وه. د اتمې او دیارلسمې پیړیو ترمنځ د عربي تمدن په زرین دور کې مسلمانانو د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه پوهه راټوله او یو ځای کړه. د اسلام بریاوې او د مسلمانانو د ساینسي علومو عروج د نړۍ او د بشریت تاریخ ته ژور بدلون ورکړ.

بغداد او دمشق د اسلامي نړۍ د علمي څېړنو مهم مرکزونه ول. دوی لوی لوی کتابتونونه جوړ کړل، ډېر علمي متنونه وژباړل. په اسلامي نړۍ کې هر اړخیزه علمي بحثونه ترسره کیدل. عربي د دې زماني علمي ژبه وه. عربي پوهانو له هندیانو څخه د شمېرې سیستم او د صفر عدد ترلاسه کړ. په اروپا کې د دلاتېنې شمیرې ځای هندي عربي شمیرې ونیولو. مسلمانانو ریاضیات، کسرونو، اعشاري، مثلثاتو، الجبر او نورو مظامینو ته هم وده ورکړه. همدارنګه نورو عصري علوم لکه طب، فزیک، فلسفه، بوټانیک یا کرهنې، او ستورپوهنې ته هم وده ورکړه. اسلامي نړیوالو پوهانو لکه ابن سینا او البیروني په اروپایي تفکر باندې د پاموړ اغېز درلود. د بېلګې په توګه بغداد او قرطبې ښارونو کې د روغتونونو او کتابتونونو شتون په اړه اروپایان هک پک حیران پاتې شول. حتی د صلیبي جګړو پر مهال اکثریت اروپایان سخت وحشیان، بې تمدنه او بې کولتوره ثابت شول. کله چې دوی د اسلامي پرمختللي تمدن سره مخامخ شول.

دا مهال مسلمانان او اسلامي نړۍ په پوځي لحاظ هم د اروپایانو څخه ډېره پرمختللي ثابته شوي ده. کله چې عیسوي لویدیځه نړۍ د منځنۍ پیړیو په تیارو او جهالت کې ډوبه پرته وه. په اسلامي نړۍ کې ریاضیات، ستوري پوهنه، د نجوم علم، طبابت او نور ساینسي علوم په بیساری ډول خپل ورستي اوج ته رسیدلي وو. د مسلمانو متفکرو پوهانو ساینسي کشفیات او اختراعات ډېر زر د اروپایانو د رنیسانس دورې لامل وګرځېدل. الکیمیا، الجبر، شمېر یا اعداد

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پوهنه، تعرفه، الکهول او الکالین دا هغه عربي ساینسي نومونه یا کلمې دي، چې اروپایي ژبو ته یې لاره موندلې ده او د اروپایانو په ساینسي علومو کې تر ننه ترینه کار اخیستل کیږي. مسلمانان نه یواځې په پوځي ډګر کې، بلکې په پوهنیزو علمي او اقتصادي برخو کې تر اروپایانو ډیر پرمختللي ول. دا مسلمانانو ول، چې عیسوي اروپایانو ته یې د ساینسي علومو په برخه کې مهمه پوهه په لاس کې ورکړه. په دې توګه په اروپا کې د اروپایانو د رینسانس دوره رامنځ ته شوې ده. نن د مسلمانانو دغه د ساینسي علومو نومونه د اسلامي نړۍ زریني دورې ته اشاره کوي، ځکه پخوا اسلامي نړۍ د ساینسي علومو مرکزونه ول. د اروپا په ځیرنیزو انېستېتونو او پوهنتونونو کې نن هم د اسلامي نړۍ طلایي دورې په اړه څېړنې ترسره کیږي. په بنسټیزه توګه د ساینسي علومو، ظهور او اوج د ساینس ترویجولو او د ساینسي عصري علومو ملاتړ پورې اړه لري. پوښتنه دا ده، چې بیا ورسته د اسلام او ساینسي علومو ترمنځ په اړیکه کې څه پیښ شول.

د اسلامي نړۍ ساینسي علومو زرین عصر:

په نهمه پیړۍ کې په اسلامي نړۍ کې علمي ساینسي پرمختګونه پیل شول. له نهمې پیړۍ څخه تر دیارلسمې پیړۍ پورې اسلامي پوهان د نړۍ تر ټولو عالي مخکښو پوهانو څخه ګڼل کیدل. د عباسي بریالي دورې یا د اسلامی زرېنې دورې راز په دې کې نغښتي وه. ,, د یوه عالم د قلم رنګ د شهید له وینې ډېر سپېڅلی دی,,. دا د عباسي خلافت د زیني دورې شعار و. عباسیانو د علم او پوهې په اړوند داسي اصول تعقیبول، کوم چې د نن ورځې تنګ نظرو ورسته پاتې بنسټپالو اسلامپالو دغه شعار هیر کړي دی. دا کومه تصادفي پېښه نه وه، چې فاتحیونو عباسیانو له بغداد څخه د خلیفه ګانو په توګه په ختیځ کې واکمن ول. دوی د ساینسي علومو په اړه داسی یو نظر درلود. په 1258 – 749 کالونو کې د عباسیانو د واکمنۍ پر مهال د لرغوني انټیکې دورې لیکنې په بغداد کې وژباړلې شوې او وده ورکړل شوه. په لویدیځ کې تر نن ورځې پورې د ختیځ ساینس پوهانو له لاسته راوړنو او د مخکښو پوهانو له روح څخه ګټه اخیستل کیږي.
له 813 څخه تر 833 کلونو پورې ابوالعباس عبدالله المآمون د اسلامي امپراتوري ستر واکمن تېر شوي دی. نوموړي د ساینسي علومو لوی پلوي و. له همدې امله هوډ څرګند کړ او هڅې کولې، څو د نړۍ ټولې علمي ساینسي لیکنې تر یوه چطر لاندې یو ځای راټولې کړي.
په 825 کال کې د بیت الحکمه یا د حکمت کور بنسټ کیښود. د حکمت کور کې له یوناني، ارامي، پارسي او هندي ژبو لیکنې عربي ژبه ته وژباړلې شوې. په دې توګه ټول لرغوني اثارو کوم چې هغمعهال موندل کیدل وژباړل شول. د بیلګې په توګه د ارسطو، هیپوکریټس، افلاطون، بطلیموس، ګالین، اقلیدس یا ارشمیدس علمي اثار هم وژباړل. دا په اسلامي نړۍ کې د علمي ساینس علومو عروج یوه ستره پیلامه ګڼل کیږي. په زړه پورې خبره دا وه، چې پر عربو، پارسیانو سربېره عیسویانو او یهودانو ته هم د حکمت کور کې د علمي څېړنیزو کارونو لپاره اجازه ورکړل شوې وه. له دې امله هم د ساینسي علومو یوه زرینه په زړه پورې دوره بلل کیږي. د نړۍ ساینسي علومو مرکز بغداد و. په هغه وخت کې بغداد د ساینس، کولتور، هنر او سوداګرۍ له پلوه د نړۍ یو ستر علمي مرکز پېژندل کیدو. په ختیځ کې خلکو د لرغونو اثارو د پوهیدني او زده کړې په اړه ډېره لیوالتیا درلودله. د پوهې تېرو ځوانانو پلټنې او څېړنې پیل کړې. دوی طب، فلسفه، ریاضي، کیمیا او ستورپوهنه مطالعه کول. د حکمت کور کې مهمو ریاضي پوهانو لکه محمد بن موسی الخوارزمي څېړنې ترسره کړې او د نن ورځې ریاضیپوهنه د هغه د څېړنو پرته د تصور وړ نه ده. نوموړی د الجبر په نامه یو کتاب ولیکه. جغرافیه پوه ال ادریس د نړۍ نقشه جوړه او انځور کړه، د هغه نقشه د څو پیړیو لپاره کارول کیدله. فزیک پوه آل هیثم د ،، اوپتیک کتاب,, ولیکه. په دې توګه په دیارلسمه پیړۍ کې انګلیسي فیلسوف راجربیکن سره د عینکو یا سترګیو په جوړولو کې مرسته وکړه. په دې موده کې د طب په برخه کې هم ډېر پرمختګونه رامنځ ته وشول. د اتمې پیړۍ تر پایه په بغداد کې په سلګونه روغتونونه شتون درلود. نه هیریدونکی ابن سینا خپل ټول تعلیمات د ارسطو د علمي لارښونو پر بنسټ ترسره کول.
هغه له 890 څخه تر 1037 کلونو پورې ژوند وکړ. نوموړي ته تر اوسه په ختیځ او لویدیځ کې درناوی کیږي. ابن سینا د ارسطو ښوونېزه تعلیماتو ته پام شوې وه. د طب، ریاضي، فزیک او اخلاقو په برخه کې تر څلور سوو زیات اثارو ولیکل. مسلمانو سوداګرو، پوهانو او حاجیانو د یوروایشیا او افریقا څخه سوداګریزه مالونه او پوهنه له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته انتقالول. یهودیانو، مسیحیانو او مسلمانو پوهانو د اسلامي قوانینو تر چتر لاندې د لرغوني انټیک دورې مفتکرینو، څیرنوالو د څیرنو اثار او افکار د ژباړې او تبادلې له لیاري خوندي ساتل. په دې زرین عصر کې اسلامي عالماء یا پوهان ول، چې د هسپانیې کوردوبا، الکساندریا او بغداد ښارونو کې د یونان او

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

روم انټيکي زماني علمي اثار د راتلونکو نسلونو لپاره وژباړل او وساتل. د عصري طبابت او متيماتيک لپاره بنسټيز تهداب کيښود.
د زريني دوري پيل او د ساينسي علومو سره ليوالتيا عباسي دوري پوري تړاو لري. دا په اسلامي نړۍ کي د اسلامي خلافت دويمه واکمني وه، چي د اتلسمي ميلادي پيړۍ په نيمايي کي پيل شوه او په دې طلايي دوره کي په تېره بيا د نولسمې پيړۍ له پيل سره خلک په دې وپوهيدل او درک کړل، چي په ساينسي علومو پوهيدل څومره مهم دي. مسلمانانو له هغو علومو سره کوم چي په اسلامي نړۍ کي شتون درلود، په بيساري ډول ليوالتيا درلودوله.
په خورا يقين سره ويلي شو، چي د عباسي دورې په لومړيو کي ساينسي علوم خپل ورستي اوج ته رسيدلي وو. په اسلامي نړۍ کي د ساينسي علومو پرمختګ په بېلابېلو وختونو کي په ځينو سيمو کي لا نوره پرمختګ کړي و. اسلامي نړۍ کي د ساينسي علومو پرمختګ تر هغمهاله په ښه توګه دوام وکړ، کله چي اسلام او مسلمانان په بېلابېلو سيمو کي د اروپايانو له يرغلونو او استعماري جګړو سره مخامخ شول.

اسلامي نړۍ څنګه له معنوي علمي پلوه له نزول سره مخامخ شوه:

يوويشتمه پيړۍ کي مسلمانان د ساينسي علومو له ننګوني سره مخامخ شوي دي. ځکه مسلمانانو او اسلامي نړۍ له ساينسي علومو سره اړيکي پرې کړي دي.
وسمهال له 1,3 ميلياردە زيات مسلمانان د نړۍ په 57 هيوادونو کي ژوند کوي. له مراکشه نيولي تر توركيي، ايران افغانستان او ماليزيا پورې په بېلا بېلو ملتونو کي سره ويشلي پراته دي. ځينې هيوادونه ډېر بې وزلې او ځينې ډېر شتمن هيوادونه دي، لکه سعودي عربستان، کويټ او عربي امارات. دوی د تيلو شتمنيو له امله هيڅ ډول اقتصادي ستونزې نه لري. خو کله چي د ساينسي علومو څېړنې خبره رامنځته کيږي، د ټولې نړۍ په پرتله د نړيوالو سياليو ليست په پای کي واقع کيږي. د اسلامي هيوادونو پوهان ډيرې لږ علمي مقالې په مخکښو نړيوالو علمي مجلو کي خپروي. په اسلامي هيوادونو کي د مسلمانانو لخوا د ثبت شويو اختراعاتو شمير ته په کتو سره د علمي څېړنې نيمګړتيا لپاره يو بل ثبوت ګرځيدلی شي. په ټوليزه ټوګه په عربي هيوادونو کي د مخترعينو له خوا ثبت شوي اختراعاتو شمير 370 ښودل شوي. دې ته په کتو سره يوازې په سويلي کوريا کي په ورته موده کي 16000 اختراعات ثبت شوي دي.
د پوهنتونونو په نړيواله درجه بندۍ کي اسلامي هيوادونه هيڅ ځای نه لري. په 500 نړيوالو پوهنتونونو کي يوازې د ترکيي يو پوهنتون ځای لري. په دې ورستيو کلونو کي عربي ساينس پوهانو په دريو برخو کي د پامور څېړنې ترسره کړي دي. هغه هم د مالګني اوبو څخه د څښاک پاکې اوبو توليد، د اوښانو د تکثير تخنيک په برخه کي او د بازانو په اړه څېړنې ترسره کړي. ورستۍ دوې څېړنې په نړيواله ساينسي ټولنه کي لږ پام ترلاسه کړي، ځکه د اوښانو سيالۍ او د بارانو څېړنې د سويډن د نوبل جايزې کميټې په پرتله د عربي شيخانو پام يې ځانته رااړولي دی.
نه يوازې ډېرې مسلمانان بلکې ډېرې نامسلمانان هم په دې نه پوهيږي، چي ولې د اسلامي نړۍ ستر عظمت او پراخوالی بالاخره مخ پرځوړند د ناکامۍ په لور روان شوي. دا څنګه شوني ده، چي اسلامي نړۍ له دومره لوړوالي څخه ښکته راغورځيدلي. نن يوازې د اسرائيلو کوچنۍ دولت اته ميليونه اکثريت يهود اوسيدونکی لري، د ټولې عربي نړۍ په پرتله يا د دريو سوو ميليونو عربانو په پرتله اته ميليونو يهوديانو په نړۍ کي څو چنده زيات اختراعات ثبت کړي دي.
دا څنګه کيدای شي، چي يوې خوا ډېرې مسلمانان په وياړ سره وايي، چي قرانکريم د زبور او انجيل اسماني کتابونو په پرتله له عصري علومو سره ډېر مالومات او مطابقت لري او د عصري علومو اصلي ستره سرچينه په کي شته.
په 1450 کال جوهانس ګوټنبرګ د چاپي مطبوعاتو يا د کتاب چاپ ماشين اختراع کړ. دغه اختراع په نړۍ کي ډېر زر خپره شوه.
د 1484 کلونو په شاوخوا کي د عثماني امپراتورۍ مرکز استانبول ته د ليکوالو او سوداګرو يو پلاوي راغي. دوی د عثماني امپراتورۍ له چارواکو څخه غوښتنه وکړه، چي ايا دوی کولي شي په عثماني امپراتورۍ کي د چاپي مطبوعات يوه څنګه پرانيزي يا جوړه کړي. دا هغمهال استانبول يا قسطنطنيه تازه فتحه شوي وه. اسلامي نړۍ په حقيقت کي د خپل ځواک او شان شوکت په اوج کي وه. عثماني امپراتورۍ د خپريدو په حال کي وه. د ليکوالو سوداګرو پلاوي د غوښتنې په اړه د عثماني امپراتورۍ مشاورينو خپل سلطان بايزيد دويم ته دا مشوره ورکړه، چي په هيڅ حالت کي دې ته اجازه ورنه کړل شي، ځکه بيا په عثماني امپراتورۍ کي هر څوک ليکل او لوستل زده کوي. دا يو هنري مسوليت دی. د کابو کولو لپاره کلونه وخت په چار دی. د اوس لپاره دغه امتياز بايد د يو څو محدودو لوستو کسانو په اختيار کي وساتل شي. دا د اسلامي امپراتورۍ لپاره يو ګواښ ګرځيدلي شي. له همدې امله

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دویم سلطان بایزید په عثماني امپراتورۍ کې د کتابونو چاپ منع اعلان کړل. ظاهراً د کتاب چاپ ممنوعیت له یوې خوا د عربي ژبې ودې او پرمختګ مخه ونیوله او له بلې خوا عثماني امپراتورۍ باثباته پاتې شوه. عثمانیانو خپل پرمختګ ته د بالکان په سیمو کې دوام ورکړ. عثماني امپراتورۍ د بلکان او تور سمندرګی سترې سیمې لاندې کړې، همدارنګه عثماني امپراتورۍ دوه ځلې په اروپا کې 1529/1682 کالونو کې اتریش پلازمینه وینا لاندې کړه.
خو عثمانیان ورسته وپوهیدل، چې ولې دوی ناڅاپه جګړې وبایلې او ولې د اروپایانو فکري شعور وده وکړه. ډیرې تاریخپوهان په دې اند دي، چې د اوولسمې او اته لسمې پیړې راهیسې په تدریجي ډول د مسلمانانو او د اسلامي نړۍ پرمختللي کولتور او سترې پوهنېزه ځواک شاتګ د لیک لوست او د کتاب نه چاپ له امله رامنځ ته شوي دی. د مسلمانانو فکري تحرک او ودې مخه د یو زرو پینځه سوو کلونو راهیسې نیولې شوې، چې تر ټولو لومړۍ خپله د عثماني امپراتورۍ واکمنان په ګریوان کې ونیول او خفک کړل. له همدې امله نن په اسلامي نړۍ کې مسلمانان لږ کتاب لولي.
نن یوویشتمه پیړۍ کې په نړیوال کلي کې د کومونیکېشن نړۍ کې مسلمانان څنګه کولي شي، د نړیوالو سره خپلې اړیکې ټینګې کړي. په داسې حال کې چې د مسلمانانو په کورونو کې ډیر لږ کتابونه لوستل کیږي. نن مسلمانان د کتاب نه لوستلو له امله د ختیځ او لویدیځ تر منځ یو ستر واټن لیدل کیږي. د دې سترې خلأ ډکولو لپاره یوې اوږدې مودې اړتیا لیدل کیږي.

د عیسوي لویدیځي اروپا سیاسیونو او روښنفکرانو اندېښنې او نیوکې:

په اروپا کې ځینې منتقدین په دې باور دي، چې اسلام د یو دین په توګه تاوتریخوالي ته وده ورکوي، غیر انساني او نا متمدنه کړنې ترسره کوي. له دې امله مسلمانان ورسته پاتې شوي دي. ځینې د لویدیځ نړۍ د یرغلیز، استعماري، امپریالیستي، کولونیالستۍ سیاستونه د اسلامي نړۍ د بدیختۍ او ورسته پاتیوالي لامل بولي. ځینې پوښتنه کوي، ولې اکثریت اسلامي هیوادونه د نړۍ هیوادونو په پرتله په اوسط ډول په لوړه کچه د حاکمیت استبدادي رژیمونه او د ټولنیز اقتصادي پرمختګ په برخه تر ټولو ټیټه کچه لري.؟
د دغو منتقدینو ځواب باید داسې ورکړل شي، چې د نهمې او دولسمې پیړۍ تر منځ مسلمانان په فلسفي، اقتصادي عصري علومو او په ټولنیز برخه کې د لویدیځو اروپایانو په پرتله ډیر پرمختللي وو. د اسلامي نړۍ تمدن په خپل لومړني زرین عصر کې اغېزمن اسلامي علماء، پوهان، متفکرین او لوی سوداګر درلودل او په پوځي ډګر کې هم برلاسي وو. په یوولسمه پیړۍ کې په اسلامي نړۍ کې د دېنې عالماوو او پوځي دولتونو یو اتحاد رامنځ ته شو، دغې اتحاد په تدریجي ډول په اسلامي نړۍ کې د متفکرینو او د عصري علومو پوهان، ادبیان او بورژوا طبقه حاشیې ته ورتیل وهله. له دې سره په اسلامي نړۍ کې د فکري او اقتصادي نوښتونو مخه محدوده کړل شوه. دغه تاریخي توضحات د اسلامي نړۍ معاصر سیاستونو سره هم تړاو لري. د دینې علماوو او پوځي دولتونو تر منځ اتحاد تر نن ورځې پورې په اسلامي هیوادونو کې د لویدیځ اقتصادي، تېکنالوجي او پوځي زبر ځواکي په وړاندې د مسلمانانو د عصري علومو پوهانو د نوښتونو او سیالۍ مخه نیولې ده. بل لوري ته اسلامي نړۍ د لویدیځ کولونیالستي سیاستونو په پیل کې په سیاسي، اقتصادي او ټولنیزه ډګر کې له ستونزو سره مخامخ کړې او ځپلې ده.
لویدیځ د اسلامي هیوادونو ټولې سیاسي، اقتصادي او ټولنیزې منابع غلا او چور کړې دي، تر اوسه اسلامي نړۍ په دې نه ده توانیدلې، څو ځان بیا سمبال کړي.
په اروپا کې ډیرې اروپایان د اسلام د پراخیدو په اړه خبرې کوي او د عیسوی مذهب له منځه تللو څخه ویره څرګندوي. خو ځینې بیا وایي، چې اسلام د افراطیت، سختدریځي او خاموشه شاتګ تر منځ ولاړ یو نړیوال دین دی. له دې سره اسلام په خپله د یو نړیوال دین په توګه په نړیوال ستر کړکیچ کې راګیر دی او اسلام د خپل د اسلامي افراطیت له امله ورو ورو په خاموشي کې د شاتګ په لور مخ پر ځوړنډ روان دی. دا شا تګ یا اعتکاف په تدریجي ډول روان دی. د ډېرو عیسوي لویدیځوالو پوهانو په اند، د مسلمانانو ورسته پاتې والي او تنګ نظري یوازې د دوی دیني لید پورې اړه لري. له یوې خوا د لویدځوالو دغه نظر له مسلمانانو سره یو ډول تعصب او ضدیت دی، له بلې خوا د نړۍ له اتو تر ټولو بېوزله هیوادونو څخه شپږ د اسلامي ټولنې دولتونو پورې اړه لري. البته دا د اسلام په اړه د اروپایي پوهانو نظر دی.
د نن ورځې مسلمانان په حقیقت کې ډېرې نالوستي او د تعلیم ریښتېنې فرصتونه او چانسونه نه لري. په اسلامي نړۍ کې تل داسې نه وه، په اصل کې اسلام د سولې، پرمختګ او د ساینس دین دی. د حضرت محمد ص د دودیزې ویناوو څخه یوه خبره دا ده، چې علم حاصل کړئ، ځکه علم حاصول د الله تعالی د رضا لپاره د الله تعالی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

څخه ویره زده کیږي. د علم لپاره کار کول عبادت دی. د علم په اړه بحث کول د خدای حمد ثنا دی او علمي تحقیقاتي څېړنه یو ډول جهاد دی. په یووشتمه پیړۍ کې مسلمانان پرته له تعلیمه ژوند نه شي کولي.
که د اسلامي نړۍ په عصري علومو پوه عالمان او پوهان د مسلمانانو د راتلونکی په اړه په اوږد مهاله توګه سم شعوری علمي فکرونه کړي، نننۍ اسلامي تمدن د بې ځایو سختدریځو بندیزونو، بې ثباتیو، ناامنیو، بې علمیو او مذهبي استبدادي تاوتریخوالي له امله مخ په ورانیدو دی. په ډیرو هیوادونو کې عصري ساینسي علوم د جګړې، ترهګرۍ، اقتصادي رکود او استبدادي رژیمونو له کبله په مړیدو دي. په ټوله اسلامي نړۍ کې وینو، چې بنسټپالني څنګه د اسلام سپیڅلی منځلارې دین، د سولې او محبت دین او په علمي اصولو ولاړ دین په ګریوان کې نیولي دی.
د لویدیځې نړۍ سیاستوال، د عیسوي دین، یهودی دین او د نورو بی کتابه دینونو عالمان او پوهان پوښتنه کوي، چې د اسلام اسماني دین به مسلمانان څنګه له دې بحراني حالت، بن بست او خونړۍ کړکیچ څخه راوباسي. موږ وینو، چې ډیرې مسلمان علمي کدرونه له دیکتاتوري استبدادي رژیمونو، د بشري ازادی نشتوالي، د ترور، ناامنۍ، بېوزلۍ، بې روزګارۍ او جنګ جګړو له امله لویدیځ ته په تښتي کې دي. دوی نه یوازې خپل کولتور له ځانه سره وړي، بلکې د اسلامي نړۍ ستونزو ناخوالي هم له ځانه سره وړي. پوښتنه دا ده، چې ولې دومره ډېر مسلمان علمي کدرونه خپل اصلي ټاټوبي پرېږدي او یوې بې برخلیکه ګډوالۍ ته مخه کوي.

عربي نړۍ کې د ښوونې او روزنې د نوی فکر او پرمختګ پیل:

د نړۍ لومړني پوهنتون په اسلامي نړۍ کې تاسیس شوي. خو نن ورځ د مسلمانانو پوهنتونونه په ساینسي نړیوالو سیالیو کې ونډه په نشت شمیرل کیږي.
په اسلامي نړۍ کې ښوونه او روزنه د پیړیو راهیسې له ستر بحران سره مخامخ شوي. اصلي لامل د علمي څېړنیو ازادۍ په نشتوالی کې نغښتی دی. اسلامي نړۍ په سختۍ سره نوې علمي څېړنیز نوښتونه خپروي یا تولیدوي. د اسلامي هیوادونو پوهنتونونه پر نړیوال کچ هیڅ ډول رول نه لري. مذهبي افراطیت او استبدادي دولتونه د تعلیمي سیستم او د علمي عصري څېړنو او پلټنو د ناوړه وضعیت مسوول دي. شل کاله مخکې په عربي نړۍ کې د بشري وضعیت پرمختګ په اړه د ملګرو ملتونو لومړني راپور خپور شو، د پامور هیلې راوټوکیدلې. د عربي بشري پراختیا راپور د عربي لیکوالو لخوا خپور شو. په راپور کې د مراکش او مسقط ترمنځ د عربي ښوونې او روزنې نظام وضیعت په اړه یو ډیر انتقادي ناوړه انځور وړاندې شو. لیکوالو په عربي نړۍ کې په ځانګړې توګه د زده کړې او څېړنې په ټېټه کچه باندې سختې نیوکې وکړې. یو کال ورسته د پوهنې په دویم راپور کې دا نیوکې نور په تفصیل سره تشریح کړل شوې او د عرب لیک دولتونو ویجاړونکې سیاستونه په کې سخت وغندل شول. که څه هم لیکوال په غټه عربان وو، خو د دوی راپورونه د منځنۍ او شمالي افریقا په اغیزمنو هیوادونو کې له سختو قهرجنو مخالفتونو سره مخامخ شول.
په هر صورت دغو راپورونه په عربي هیوادونو کې د بیدارۍ یو غږ پورته کړ او پر ځان د انتقادي بحثونو لامل شول. شل کله ورسته په سیمه کې ډیر پرمختګونه رامنځته شول. په داسې حال کې چې سوریه، یمن، او لیبیا د ویجاړونکي خونړیو جګړو له امله لسیزې شاته پاتې شول، خو نورو عربي هیوادونو د ملګرو ملتونو د بشري پراختیا په شاخصتونو کې خورا ډیرې لاسته راوړنې لري. د خلیج شتمن بډایه هیوادونه لکه امارات، سعودي عربستان او قطر په خورا لوړه کچه د بشري پرمختګ په برخه کې لاسته راوړنې لري.
په ټولیزه توګه نن عربي هیوادونو د لومړنیو زده کړو او د لیک لوست په برخه کې د پامور پرمختګ کړي دی. نن ورځ د خلیج هیوادونو کې 96 سلنه ماشومان لومړنۍ ښوونځي ته ځي. 73 سلنه لویان لیک او لوست کولې شي. په عربي نړۍ کې 63 سلنه وګړي او په بډایه ټیلو دولتونو کې سل سلنه وګړي انټرنیټ کاروي. تر ټولو مثبته خبره دا ده، چې د زده کړې په برخه کې د نارینوو، نجونو او میرمنو ترمنځ واټن ډیر لږ شوي دی. که څه هم د کار په بازار کې د ښځو په وړاندې د پامور ستونزې شتون لري.
اسلامي هیوادونو کې لوړې زده کړې او پوهنتونونه ډیر ورسته پاتې دي. په پوهنتونونو کې د لوړو زده کړو او علمي څېړنو وضعیت واقعاً ښه نه دی. د ښوونځي په زده کړو کې پرمختګ د پوهنتونونو په کیفیت باندې اغېز لري.
په 972 کال کې د الازهر پوهنتون بنسټ ایښودلې شوي دی. الازهر پوهنتون په قاهره کې د نړۍ له پخوانیو پوهنتونونو څخه دی. نن ورځ د عربي نړۍ پوهنتونونه پر نړیوال کچ د نړیوالو پوهنتونونو سره سیالي نه شي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کولي. که څه هم په شخصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو د زده کړې کچه د دولتي پوهنتونونو په پرتله لږ لوړه ده، لکه په بيروت کې امريکايي پوهنتون، خو دغو پوهنتونونو ته يوازې د شتمنو خلکو لوڼې او ځامن ورتللي شي.
د دې بدبختيو يو لامل د پخوانيو تدريسي ميتودونو کارونه ده. په ښوونځيو او پوهنتونونو کې زوړ تدريسي سيستم له ياده د سبق يادولو فضأ حاکمه ده. د دې پر ځای چې له محصل څخه وغوښتل شي، چې د څيړولو موضوع په خپله وپلټي. ښوونکی په خپله د حل لارې چارې ورته لتوي او ومومي. ښوونکي خپله ورته حقايق بيانوي. په ازموينه کې يوازې د پوهې ازموينه کيږي، نه په خپلواک ډول د ستونزو حل کولو وړتيا پوښتل کيږي. تخليقي جوړونکي مضامين لکه د موسيقي او د ښکلو هنرونو پوهنځيو ارزښت په کې بې ارزښته ښکاري.
د پوهنځيو بحران بل لامل د مالي سرچينو کمښت دی. حتی د خليج بډايه هيوادونه په تحقيقاتي څېړنيزو څېړنو او د زده کړو پراختيا باندې لږ پانګونه او لګښتونه کوي. د اماراتو په استثنا په ټولو عربي هيوادونو کې لګښتونه د ناخالص کورنې توليد له يوې سلنې څخه لږ دي. په جرمنی او سويس کې دا له دريو سلنې څخه پورته دي. د څيړونکو لپاره د کار شرايط په ورته ډول ډير خراب او نامناسب دي. له همدې امله هر کال زرګړنه کډرونه لويديځ ته کډې کوي. تر نن ورځې پورې يوازينې عرب مصري کيمياپوه احمد زيويل په 1999 کال کې فزيک، کيميا طب او اقتصاد په برخه کې د نوبل جايزه ترلاسه کړې.
د 2003 کال کې د ملګرو ملتونو راپور په جدی توګه په دې ټينګار کړې، چې په عربي ژبه کې لږ کتابونه خپاره شوي او لږ علمي اثار له نورو ژبو ژباړل شوي دي. پخوا عربي نړۍ کې په بيروت، قاهره او بغداد کې ځښتې ډيرې ورځپاڼې خپريدې، داسې ويل کيدل، چې قاهره ليکي، بيروت خپروي او بغداد لولي. د مسلمانانو د مطالعې دغه وخت اوس نشته. ځکه مذهبي افراطيت، دولتي سانسور، کورنېو جګړو او اقتصادي بحرانونو په اسلامي ادبياتو کې ستر زيانونه اړولي دي. همدارنګه لږ کتابونه عربي ته ژباړل شوي دي. له دې امله هم عربان نړيوالې پوهې ته لاسرسی نه لري. برعکس ډير لږعلمي اثار له عربي څخه نورو ژبو ته ژباړل شوي. د رسنيو وضعيت هم ډير خراب دی. د مطبوعاتو يا رسنيو حقيقي ازادی په هيڅ يوه عربي هيواد کې شتون نه لري.

د افغانستان ښوونېزه نظام فلج شوي:

د شاوخوا څلويښتو کلونو راهيسې اسلامي نړۍ کې د افراطي او بنسټپالنې تمايلاتو له لوري د ښځو خدای ورکړي حقونه محدوديږي او په افغانستان کې د نجونو پرمخ د ښوونځي او تعليم دروازې تړل کيږي. د عصري نړيوالو ساينسي علومو مخه نيول. همدا سختدريځه تمايلات ورځ تر بلې په اسلامی هيوادونو کې ډيريږي او مسلط کيږي.
د اوو پيړيو راهيسې اسلام د نړۍ ټولو انسانانو ته علم، پوهه او حکمت ډالۍ کړي دی. نن د مسلمانانو پوهه، عقل او منطق چيرې تللي دی. اسلام د ساينسي علومو اوج څخه د ډبرې يا حجر دورې په لور روان دی.
دا د مسلمانانو خپله ګناه او تيرونه ده، چې په نړيوال علمي سيالي او پرمختګ کې هيڅ ډول رول نه لرل نه غواړي. مسلمانان په ګناه کې ژوند کوي، د يوه ملا يا ديني عالم سترګې په اتريش کې، د مسجد مايکروف په امريکا کې، د ملا او جومات ساعت په سويس کې، د ملا ايفون يا ملفون په چاپان کې، موټر يې په جرمني کې، د ملا بوټونه په ايټاليه کې، کالي يې په انګلستان کې. د مسلمانانو د کور نيمايي سامان په چين کې، د جهادي مسلمان کلاشينکوف په روس کې جوړيږي. لنډه دا چې مسلمانانو څه شي اختراع کړي دي. په اسلامي نړۍ کې داسې يو پوهنتون نشته، چې د هغې څخه يو مسلمان فارغ شي، څو هغه نړيوال سياست مديريت کړي او ټولې اسلامي نړۍ د مشرتابه وړتيا ولري.
د ژغورنې نړيوال سازمان په يوه تازه ارزونه کې ليکي: د افغانستان ښوونېزه نظام تر بل هر هيواده په بدترين وضعيت کې دی او پر نړيوال کچ د ټولو هيوادونو په پرتله لومړۍ مقام لري، ښوونېزه نظام د سقوط له ستر ګواښ سره مخامخ دی. دغه حالت د طالبانو له واکمېدو سره رامنځ ته شوي دی، افغان نجونو ته له شپږم ټولګي پورته د زده کړې اجازه نه ورکوي. د طالبانو دغه ناوړه چلند د ځينو منځلارو طالب مشرانو تر څنګ د نړۍ ديني عالمانو او پر ملي او نړيوال کچ له سختو اعتراضونو سره مخامخ شوي دی. ټول افغانان د نجونو د تړل شويو ښوونځيو د زر پرانستلو غوښتنه کوي. د اسلام سپيڅلي دين تر ټولو زيات ټينګار د علم او پوهې په زده کړې، تفکر او استدلال باندې کړي دی. ساينس او اسلام نه بېليدونکی دي. نن سبا د ساينس اهميت او ارزښت د بشريت لپاره له هيڅا پټ نه دی. ټول انسانان او آسماني دينونه د ساينس او پوهې په ترلاسه کولو ټينګار کوي. د ساينس په لاره کې پرمختګ د وياړ سرچينه ګڼل کيږي. اسلام د علم او پوهې په ترلاسه کولو ټينګار کوي، د هر بل دين په پرتله ساينس او علم ته ترجيح ورکوي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خو نن په يويشتمه پيړۍ کې پر دې بحث کيږي، چې تعليم وکړو که نه يې وکړو. علم په کار دی، که کار نه دی. په علم کې دنياوي او اوخروي ويش ناسم دی. د علم خزانې په نړۍ کې پټې پرتې دي. دا د انسان فرض دی، څو د پرمختللي علم په رڼا کې خپله ټولنه پرې رڼا کړي.
د دنيوي عصري علومو مباح ګڼل، د يوه لنډ فکره بې خبره ناپوهه مسلمان نظر دی. نه د يوه پوه مخور اسلامي عالم. ډېر اسلامي حديثونه شته، چې صريحاً د علم د طلب غوښتنه کوي. د علم طلب فرض عين او فرض کفايه دی. که د طالبانو مشران د اسلامي زرېنې دورې نزول او د مسلمانانو د کمزورۍ تاريخ لامولونه لوستلي واې، بيا هيڅکله داسې يوه خبره نه کوله. لويديځ يا ځواکمن هيوادونه يوازې پر هغو کمزورو هيوادونو باندې يرغل کوي. په کومو کې چې دنياوي عصري علوم مباح عمل ګڼلي شوي وي. اسلام د دنياوي او اوخروي ژوندانه لپاره يوه لياره ده. اسلام يوازې عبادت نه دی.
د دنيوي علوم ترک يا مباح عمل ګڼل د مسلمانانو په ضرر نه، بلکې د افغانانو په ضد يو بد عمل دی، ځکه ټول مسلمانان د علم طالب فرض ګڼي، خو يوازې طالب يې مباح عمل ګڼي. د امير امر په خپلو مامورينو باندې واجب دی، خو عام ولس د نيوکو، اصلاح او د خپل حق غوښتنې حق لري.
زموږ د ناکاميو او بد بختيو اصلي لامل زموږ خپله ناپوهې ده. د عصري علومو پوهنه انسان ته د يوې علمي موضوع په اړه د تحليلي پرتلې ځواک وربښي. انسان د همدې علمي ځواک پر بنسټ خپلې مشروع او انساني ګټې سمې سنجولې شي. په ټولنه کې هم د ټولنيز سمون او خپل مسوولیت ادا کولو کې پوره له احتياطه کار اخلي. تل معقول او مطلوب انتخاب کوي. عصري تعليم انسان ته يو ځانګړۍ ذاتي حيثيت، وقار او عزت وربښي. انسان د يوې اوسپنېزې ارادې سره خوځښت کوي. نن اکثريت مسلمانان نه لوستل او نه ليکل کولي شي.

لنډېز:

د عصري ساينسي علومو تاريخ رازده کوي، چې پوهه جهان شموله ده. پوښتنه دا ده، ولې په اوسني عصر کې مسلمانان د دريمې نړۍ د ورسته پاتو ولسونو په ډله کې دي. دا يو څرګند واقعيت دی، چې د لويديځ عصري تمدن د يو شمېر لاسته راوړنو پر بنسټ ولاړ دی. دا عصري تمدن له اسلامي ختيځ څخه د عربي هسپانيا له لارې اروپا ته رسيدلي دی. دا هغه عصري پوهنه ده، چې د اسلامي ساينسي تجربوي علم د لاسته لاړونې په ترڅ کې د قراني لارښوونو په رڼا کې رامنځته شوې او اروپا ته لاره موندلې ده. خو اسلامي تمدن په دې اوږده لاره کې خپلې فلسفي ريښې له لاسه ورکړي. په دې توګه اروپا ته اسلامي علوم د تخنيکي، تجربوي ميتودلوجي سره رسيدلي. اسلام له ساينس سره هيڅ ستونزه نه لري، بلکې د ساينسي علومو وده او پرمختګ اسلامي کول په کار دي.
په اصل کې اسلامي بنسټپالنه د لويديځ برلاسه پوځي ځواک او کولتور ارزښتونو په وړاندې يو غبرګون دی. داسې فکر کيږي، چې عصري علوم يوازې لويديځ پورې اړه لري. په داسې حال کې چې عصري ساينسي علوم د ټول بشريت ګډ ميراث دی او ساينسي علوم جهانشمول دي. يوازې لويديځ پورې اړه نه لري. د لويديځ اوسني برتري پرته له اسلامي علومو مشارکت د تصور وړ نه ده. د غرب د برتري ريښې له اسلامي ساينسي علومو پرته بل څه نه دي. که مسلمانان د لويديځ ځينې لاسته راوړنې په خپلو هيوادونو کې تطبيق کړي او د خپلو موخو لپاره يې وکاروي. دوی هغه څه بيرته اخلي، کوم دوی پورې اړه لري. عصريت د لويديځ محصول په توګه ګڼل او په بشپړه توګه لمنځه يوړل، دا يو ناسم نظر دی، د اسلامۍ نړۍ لپاره دا شونې ده، چې عصريت يا مودرنيزم په اسلامی طريقه خپل کړي، پرته له دې د لويديځ خرافاتي ارښتونه، غيرا خلاقي، فسادي اداب رسوم او اخلاق خپل کړي. په دريمه نړۍ کې پر اسلامي هيوادونو باندې د لويديځ استعماري واکمني او کولونياليستي سيستم بريا د کمزوري اقتصاد او د ولسونو ناپوهي پورې اړه لري. ځکه لويديځوال په ساينسي علومو او مدرن ټېکنالوجي باندې پوره حاکميت لري. د لويديځ برتري ځواک د ساينس او عصري علوم پر بنسټ ولاړ دی. له همدې امله دوی د بې وزلو او کمزور هيوادونو په وړاندې بريا مومي. په اوسني عصر کې د مسلمانانو کمزوري او ناپوهي د ساينسي علومو د نشتوالي له امله ده. همدا ناپوهي د مسلمانان تر منځ د کړکيچ لامل ګرځيدلي، مسلمانان يې په بنسټپال، ډوديزپال او روڼاندي جهانشمول سره ويشلي دي. اسلام په خپله جهانشمول دين دی او د ټول بشريت لپاره يو تعريف لري. علمي څېړنې جهاد دی. په يوه حديث کې راغلي دي ,, چې د علم حاصول جهاد دی يا د علم په حاصلولو کې يوه ورځ مصرفول يا بوخت پاتې کيدل، د الله تعالی لپاره د الله ج په لاره کې تر سلو جګړو غوره ده.,,
په دې کې هيڅ شک نشته، چې پوهه د اسلام په دين کې يو بنسټيز ځواک دی. حضرت محمد ص په خپلو تعليماتو او ارشاداتو کې علم ته ځښت ډېر مهم مقام ورکړي دی. حضرت محمد ص تحقيق او تفکر ته ډېر اهميت ورکړي، مسلمانانو ته په مکرر ډول نصيحت کړي، چې په خپل ځان باندې تعليم وکړئ.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په قران عظیم شان کې د عصري علومو لکه لمر، سپوږمۍ، غرونو، بارانونه، د کښت او باغونو ذکر شوي دي. مسلمانان څنګه کولي شي، پرته له عصري علومو په نننۍ صنعتي پرمختللي نړۍ کې او په نړیوال پرمختللي سوداګریزه سیستم کې پرته له عصري علومو زده کړو څخه ژوند او سیالي وکړي. مسلمانانو څنګه د لویدیځ په وړاندې چې په عصري جنګي الکترونکي او لیزر وسایلو سمبال دي، مقابله وکړي.
تر ټول عجیبه دا ده، چې مسلمانان د لویدیځ څخه تخنیکي ساینسي محصولات واردوي. دوی په خپلو هیوادونو کې د ساینس او د ټیکنالوجي غربي پوهان استخداموي، حتی خپل ماشومان لویدیځ ته د لوړو زده کړو لپاره لیږي. بیا هم لویدیځ او عصري علوم ردوي. نن ورځ په اسلامي هیوادونو کې ساینس ور ور په مړیدو ګرځیدلي. له دې امله اسلامي ټولنه له سترو ننګونو سره مخامخ شوي ده.
له کلونو راهیسې بېلا بېل کارپوهان د اسلامي کنفرانس سازمان له غړو هیوادونو څخه د ساینسي زده کړو او د څېړنېزو پلټنو د فرصتونو د ښه کولو غوښتنې کوي. په ځانګړي توګه د ډیرو مالي مرستو او سرچېنو غوښتنې کوي.
تر نن ورځې پورې په اسلامي نړۍ کې مسلمانانو د خپل ځواک د زوال د لاملونو په اړه پرته له وړو وړو حلقو څخه بهر د عامه پوهاوی لپاره یو په زړه پورې انتقادي بحث نه دی ترسره کړي.

پای
رب زدني علما

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ